


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# فاروق « فردا »

د نشرنيټه : 26 جون 2024 ميلادی

# غزل

قسم يې ږدي په دروغو د رښتيا پر لمن داغ
هيبت يې خپله ډار شي د موسکاپر لمن داغ
هوس د لېونتوب يې عقل پښو ته غورځولی
زنځير د غلامی يې شي زما پرلمن داغ
که اوښکه پوهېدای چې باسي لار له اننګيو
انځور به يې خاطر وای د ښکلا پر لمن داغ
تا وتاله جنت ټول په يوه دانه غنم
آدمه ستا سودا شوه د حوا پر لمن داغ
ښکلا پسې يې نورې ډېرې هم وې لېونياني
خو پرېښود يوسف د زليخا پر لمن داغ
اوسپړي لا تراوسه د ماضي په اوسانو کې
ذهنونه زنګ وهلي دي د چا پر لمن داغ
د زلفو ور ماښام يې خوري د مخ ستورى ورو ورو
آوار يې د هينداري شي حيا, پر لمن داغ
چې داسي مې بڼ وژني او کارغه ورته رابولي
د ګل مينه به تل شي د بورا پر لمن داغ
ورپېږي د ماضي ږلی او ځي تر مستقبله
پرېږدي به په هر ګام کي د دنيا پر لمن داغ
آخر به د لمر وړانګې کړي اوبه کنګل د ژمي
خو پاتي يې وي نښې د فردا پر لمن داغ
***

فاروق « فردا »
د جون 24 مه 2024

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org